# زیار

د زیار کښانو هنداره

کار، نان، لباس، خانه برای زحمتکشان

سرطان ۱۳۹۳ | انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان | شماره بیستم


## دولت های چپاولگر: دوستان غارتگران جهانی و دشمنان زحمتکشان

غارتگران جهانی که بنام امپریالیست ها یا هم سرمایه داران خونریز یاد می شوند، همیشه کوشش می کنند که در کشورهای فقیر و نادار دولت های چپاولگر را بر سر قدرت نگه دارند تا از طریق این دولت ها زحمتکشان را چپاول نموده و خود به ثروت بیشتر برسند.

در حال حاضر که در افغانستان و قسمت هایی از قبایل پاکستان جنگ خونریز غارتگران جهانی جریان دارد، قربانیان این جنگ غیر عادلانه و به شدت ارتجاعی را زحمتکشان هر دو کشور می سازند. در افغانستان این زحمتکشان هستند که در سیزده سال گذشته جز فقر، دربدری، آوارگی و کشتار چیزی ندیده اند و همین گونه در مناطق قبایلی پاکستان این زحمتکشان هستند که هر روز کشته می



شوند و درد و رنج می کشند.

طالبان که از جمله دشمنان زحمتکشان به شمار میروند، وسیلهٔ در دست امریکا و ناتو شده است تا زحمتکشان را بمبارد نموده، دار و ندار آنانرا برباد کنند. دولت های چپاولگر منطقه که همیشه در خدمت غارتگران درجه یک جهان قرار داشته اند، در کشتار و قتل عام زحمتکشان دریغ نورزیده، همدست و همیار امریکا و ناتو بوده و خون زحمتکشان را بی پروا می ریزانند و بعد هم قیمت آنرا تعیین نموده و با دالر پرداخت می کنند. دولت ارتجاعی پاکستان که در خدمت سرمایه ص ۳

## د می لومړی ورځ د زیارکښو کارګرانو د مبارزې او یووالي ورځ

د می لومړی ورځ د نړۍ د ټولو زیارکښو کارګرانو د مبارزې، یووالي او پیوستون ورځ ده. د خلاصون لپاره مبارزه، د پانګوالۍ له زبېښناک ځخه د ژغورنې لپاره یووالي او د کارګرو او زیارکښانو د سیاسي واکمنتیا لپاره هڅه د دې ورځې د لمانځنې او تجلیل منځپانګه او ماهیت جوړوي.

دا شکوهمنده او پرتمینه ورځ په داسې حال کې زموږ په هیواد کې لمانځل کیږي چې د کارګرانو او د نورو بیوزلو زیارکښانو اصلي دښمنان یعنی د پانګوالۍ او سرمایه داری زبېښناکه نظام د خپلو لښکرو، ټانکونو، شوبلو او طیارو سره هره ګړۍ جنایت کوي او تر اوسه یې په زرګونه کارګران او زیارکښان وژلي دي. دا ورځ په داسې بدمرغه افغانستان کې لمانځل کیږي چې د خارجي ستمګرو سرتیري او د هغوې کورني لوټماره دوستان هره شیبه د کارګرانو او زیارکښانو پر کورونو بمونه اچوي، په زندانونو کې یې شکنجه کوي، پر اولادونو یې جنسي تیری کوي او میرمن یې ورته په سپو داړي.

د می لومړی ورځ د پانګوالانو د زبېښناک او استثمار په وړاندې د مبارزې د ګرندیتوب ورځ ده. د هغو پانګوالانو د زبېښناک په وړاندې چې د ورګو په شان د بیوزلو وینه خوري او کارګران او زیارکښان په بیرحمی لوټي. خو په افغانستان کې دا ورځ د پانګوالانو او لوټمارانو تر څنګ د بهرني استعمار او د هغوې د مریانو په وړاندې د کارګرانو او د نورو زیارکښانو د مبارزې او یووالي ورځ ګڼل کیږي، ځکه دا بهرني استعمار دی چې دننه په افغانستان کې د کارګرانو او زیارکښانو له دښمنانو ملاتړ کوي او کارګران او زیارکښان په بیرحمۍ ځپي.

د می لومړی ورځ په داسې حال کې لمانځو چې یوه ورځ دمخه د سمنګان ولایت د دره صوف ولسوالۍ د دهن تور د سیمې د سکرو په کان کې د یوې چاودنې له امله نږدې ۲۰ بیوزله کارګران

## افغانستان بزرگترین گورستان بیماران توبرکلوز در جهان

با وجود ادعای بلند بالایی که از سوی وزارت صحت افغانستان صورت می گیرد که گویا ۸۵ درصد مردم تحت پوشش خدمات صحی قرار گرفته اند و با وجود سرازیر شدن ملیاردها دالری که به اصطلاح تحت نام کمک به مردم افغانستان صورت می گیرد، بازهم افغانستان بلند ترین آمار مرگ و میر افراد مصاب به مرض توبرکلوز را در سطح جهان به خود اختصاص داده است که متأسفانه اکثریت قاطع قربانیان آنرا زحمتکشان و طبقات محروم جامعه ما تشکیل می دهند.

براساس آخرین گزارش سازمان صحی جهان، سالانه در افغانستان حدود ۱۸۹ واقعه جدید توبرکلوز در هر صد هزار نفر یعنی ۲۱ هزار واقعه جدید در سال بروز کرده و حدود ۳۹ نفر در هر صد هزار نفر یعنی ۱۳ هزار تن در سال جان شان را از سبب این مرض از دست میدهند که در این میان ۲۲ درصد تمام واقعات توبرکلوز را زنان تشکیل می دهند.

با آنکه ارقام ارائه شده نمی تواند بازتاب دهنده تمامی واقعات توبرکلوز در کشور باشد، اما تا جایی می توان به حقایقی دست یافت و آن اینکه توبرکلوز یک بیماری است که عمدتاً گریبانگیر زحمتکشان کشور به خصوص زنان آنان بوده و می توان آنرا یک بیماری نامید که بیشتر به سراغ خانواده های فقیر جامعه می رود که در وضعیت بد اقتصادی بسر می برند. افراد ثروتمند و طبقات مرفه جامعه یا کمتر به آن مصاب می شوند و یا هم در صورت مصاب شدن توانایی تداوی آنرا دارا می باشند که می توانند به سادگی خود را از چنگال آن نجات دهند.

جنبه طبقاتی این مرض عامل اساسی کم توجهی و بی پروایی حکومتداران و زمامداران بر سرقدرت بوده و همین امر نیز سبب شده تا به آن توجه کمتری صورت گیرد و در صدد ریشه کن سازی آن شوند. زیرا آنان هیچ تشویش و نگرانی ای از بابت مبتلا ص ۳



## کودکان زحمتکشان و بدترین روزگار در حاکمیت جنایتکاران



جنایت، فرهنگ حاکم چپاولگران است. خارجی ها و داخلی های تفنگدار هر روز جنایت می کنند، خون می ریزند و زندگی مردم زحمتکش را برباد می کنند. در میان این جنایت، کودکان زحمتکشان هم در آتش استعمار و استبداد می سوزند. خارجی های امریکایی و ناتویی کودکان زحمتکشان را بمباردمان می کنند و طالبان با حملات انتحاری آنان را در کنار جاده ها می کشند و تفنگداران تنظیمی و چوکره های محلی آنان روزانه بر کودکان تجاوز می کنند و دولتی که با پول ستمگران امریکایی و ناتویی در خدمت سرمایه داران و تاجران و خانان و اربابان قرار دارد با گذشت هر روز کودکان را به کارگری، کارهای شاقه و گدایی سوق می دهد.

روزی نیست که خبرهای دردناک در مورد زحمتکشان و بخصوص کودکان زحمتکشان نشنویم. در اینجا دو خبر دردناک در مورد کودکان زحمتکشان را ارائه می کنم که نشاندهنده وضعیت اسفناک کودکان زحمتکشان است. از ولایت فاریاب خبر می رسد که در شش ماه اول سال روان میلادی ۷۲ طفل در این ولایت قربانی جنگ ها و کشمکش های خونریزان جنایتکار شده اند که از جمله ۱۶ طفل آن کشته شده اند. این گزارش که بوسیله یوناما داده شده است، بخش کوچکی از جنایات های دشمنان زحمتکشان است که مردم آنها را بنام طالب، جنگ سالار، امریکایی و ناتویی و حامیان تفنگدار داخلی می شناسند. یوناما این گزارش را در حالی نشر می کند که همین اکنون کودکان در ولسوالی سنگین ولایت هلمند در کنار دیگر زحمتکشان میمیرند و به قتل می رسند.

جنگ بیرحمانه کنونی که ص ۳

## جګړې، کړکیچ او ستم، ۵۱ میلیونه زیارکښان مهاجر کړي دي

تیرزاد

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمشنرۍ په خپل کلني راپور کې ویلي دي چې د دویمې نړیوالې جګړې راپدیخوا څه باندې ۵۱ میلیونه خلک له خپلو هیوادونو او کورونو څخه د کډوالۍ ژوند ته مخه کړې ده. دا خلک څوک دي او ولې یې د کډوالۍ ژوند پیل کړی دی؟

د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمشنرۍ د راپور له مخې ویل کیږي چې دا میلیونونه انسانان د جګړو او کړکیچونو له امله کډوالۍ ته مجبوره شوي دي. دا میلیونونه انسانان هغه زیارکښه انسانان دي چې د پانګوالو او لوټمارو تر بیلابیلو ستمونو لاندې راغلي دي او ورته له تیښتې او کډوالې پرته بله لاره نه ده پاتې شوې.

د دویمې نړیوالې جګړې راپدیخوا د مهاجرینو او کډوالو زیاتیدنه، په ښه توګه ښکاره کوي چې د زیارکښانو ژوند د هرې ورځ په تیریدو له نویو ګواښونو او رنځونو سره مخامخ شوی او لا د رنځونو ډکې ورځې د زیارکښانو مخې ته پر اتې دي.

پانګوالان او سرمایه داران د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره پر هیوادونو تیری کوي او د هیڅ ډول ستم او جنایت څخه ډډه نکوي. کله پانګوالان په مستقیمه توګه تیری کوي او کله هم له خپلو لاسپوڅو نوکرانو څخه د وسیلې په توګه کار اخلي. په دې وروستیو کلونو کې پر افغانستان، د پاکستان پر قبایلي سیمو، عراق، لیبیا، مالي، سومالیا، سوریه او ... هیوادونو باندې یا خونړي پانګوالو په خپله نیغ په نیغه برید کړی یا یې هم د خپلو چوپړیانو او نوکرانو له لارې جنایت تیز کړی چې دا د وژنې، لوټمارۍ او کډوالۍ لامل شوي دي.

افغانستان هغه ستمځپلی هیواد دی چې څه باندې درې لسیزې کیږي چې زیارکښان یې د کډوالۍ رنځمن ژوند تیروي. همدا اوس نږدې ۵ میلیونه زیارکښه افغانان په بیلابیلو هیوادونو کې د کډوالو په توګه ژوند کوي. بهرنی یرغل، کورنۍ بیرحمانه جګړې، د امریکاییانو او ناټویي سرتیرو بمبارۍ، د طالبانو انتحار، د تنظیمي ټوپکمارو جنایتونه د دې سبب شوی چې د کډوالۍ لړۍ لا تیزه شي، حتی تر دې پورې چې یوازې په یوه کال کې ۵۰ زره افغانانو ترجیح ورکړی چې په بیلابیلو لارو موندنې سره له هیواده ووځي. تر هغه چې ستم، جنایت، تیری، یرغل، لوټماري او بربریت وي، د کډوالۍ مخه نه نیولی کیږي، تر هغه چې ښکیلاک وي او وژنه وي، تر هغه چې زبېښناک وي او چپاول وي، زیارکښان به د کډوالۍ ژوند تیروي. کډوالي یوازې هغه وخت له منځه ځي چې نه ستم وي، نه جنایت، نه ښکیلاک او نه زبېښناک. ★


زیار

صاحب امتیاز:

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان

شمارهٔ تماس: ۰۷۷۲۰۴۳۶۹۴

ایمیل: zayar.af@gmail.com

وب لاگ: www.zayarafg.blogspot.com

حساب بانکی بانک ملی: ۱۰۰۱۳۳۴۰۳۲۹۶۲


## سیلاب های ویرانگر بلای دیگری به جان و مال زحمتکشان شمال کشور

سالهاست مردم ولایات شمال به خصوص ساکنین زحمتکش جوزجان، سرپل، فاریاب و بادغیس از ستم زورمندان و تفنگسالاران مناطق شان رنج توان فرسا را متحمل می شوند. هر آنچه ظلم، جنایت و خودسری بوده طی بیش از سه دهه بر زحمتکشان این مناطق روا داشته شده است.

اما اینبار سیلابهای مدهش و ویرانگر برخانه های گلین آنها یورش برده و بنیاد و اساس آنانرا برکند. ساکنین روستاهای آسیب دیده اکثراً مردمان فقیر و زحمتکشی هستند که بنا به مجبوریت و بیچاره گی در نقاط آسیب پذیر از سیلاب ها، خانه و کاشانه گلی ساخته و با مشقت زندگی می گذراندند، که طبیعت بی رحم بر آنان تاخته و جان و مال آنانرا با هست و بودشان گرفت.

این سیلاب ها که تا کنون در ولایات جوزجان، سرپل، فاریاب و بادغیس به خصوص مناطق درزاب، خواجه دوکو، قوش تپه، خواجه چوپان و دها مناطق دیگر جان صدها تن را گرفته، صدها تن دیگر مفقودالاثر و دها هزار خانواده را بی خانمان نموده است. برعلاوه، دها هزار مواشی آنان با خانه ها و دار و ندارشان نیز از بین رفته است.

با و جود وسعت این فاجعه به جز از چند موسسه و نهاد محلی که به محل ص ۲

# زیارکښې ښځې یوازې د مبارزې له لارې کولای شي د ستمونو کړۍ ماتې کړي!

ستمګران تل هڅه کوي چې زیارکښان په بېلابېلو ډولونو تهدید کړي. لـه وژلو څخه تر اسارته پورې، له بردګۍ څخه تر تاوتریخوالي او ډېولو پورې، لـه کنځلو څخه د بدن غړي غوڅولو پورې او داسې نور تهدیدونه تل د زیارکښانو په وړاندې موجود دي. دا ګواښونه او تهدیدونه په ځانګړې توګه په دوو موخو تر سره کېږي: د ستمګرانو لپاره د لالوټنې زمینه برابرول او د زیارکښانو د مقاومت ځپل.

د افغانستان زیارکښه میرمنې هغه بېوزلې میرمنې دي چې د مختلفو ستمونو لاندې ژوند کوي. دا بېوزلـه میرمنې د امریکا او ناټویي سرتېرو لخوا په بېرحمۍ بمباري کېږي، ټوپکسالاره تنظیمي وحشیان وربانـدې جنسي تیري کوي او طالبان هم د خپلو فاشیستي سیاستونو سره سم د هغوې ژوند له حیواناتو سره برابر کړی دی. د دې تر ټولو ځنګ ځینې نارینه هم خپل نارینتوب پر ښځو په بېرحمانه ستم کولو کې وینې!! د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون په دې وروستیو کې راپور ورکړی چې د روان لمریز هجري کال په لومړیو درې میاشتو کې د ښځو پـه وړاندې د تاوتریخوالي د بېلابېلو ډولونو ۱۵۰۰ مورده ثبت شوي دي. تېر کال د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي ۵۰۰۰ مورده ثبت شوي وو.

دا شمیرې که څه هم له اصلي شمیرو سره ډېر تفاوت لري او د بېوزلو میرمنو په وړاندې د ستم او تاوتریخوالي کچه د دې څو چنده ده، خو دا شمیرې هم ښکاره کوي چې د امریکا پـه خونړۍ دموکراسـۍ کـې دا میرمنـې او ماشومان دي چې د نورو په پرتله غم لړلي او دردمن ژوند تېروي او په بېرحمه توګه ځپل کېږي.

زیارکښه ښځې لکه د نورو زیارکښانو په شان هغه ځواک دی کـه چیرې پـه یو رښتیني او ژمن بنسټ او نهاد کې سره راغونډې شـي او د یـو مخکښـه دموکراتیـک سیاسـت سره مبـارزه او تلاش وکړي، نه یوازې دا چې پر خپلو متېو د ډول ډول ستمونو ځنځیرونه ماتولی شي، بلکې کولای شي نور زیارکښان هم د استعماري او استثماري ستم څخه وژغوري.

ودان

## د مارچ اتمه، د زیارکښو ښځو د یووالي او مبارزې ورځ

آیا د مارچ اتمه د ټولو ښځو ورځ ده؟ آیا د مـارچ اتمـه د دې لپاره تجلیلوو چې ګویا ښځې مینـدې او خوینـدې او میرمنې دي؟ آیا دا ورځ د شـتمنو او بېوزلـو، د مفتخـورو او کـارګرو او زیارکـښو، د ستمګرو او سـتمځپلو ښـځو ورځ ده؟ ولـې ځینـې نهادونـه او بنسټونه کوښښ کوي چې دا ورځ پـه یوه عامه او مسخره ورځ بدله کړي؟

د مارچ اتمه د ټولو ښځو ورځ نه ده. دا د کـارګرو او زیارکـښو ښـځو ورځ ده. زیارکـښان دا ورځ د دې لپـاره نـه تجلیلوي چې ګویا ښځه مور، خور او میرمن ده، بلکې له دې لپاره یې لمانځي چې دا ورځ د کارګرو او زیارکښو ښځو ورځ ده. دا د زیارکښو او کارګرو ښځو د یـووالي او پیوسـتون ورځ ده، هغـه پیوسـتون چـې د سـتمونو څخـه د ژغـورنې لپـاره د ښـځو مبـارزې تـه لـور ورکـوي. د مـارچ اتمـه د شـتمنو او مفتخـورو او ستمګرو ښـځو ورځ نـه ده. دا ویاړلې ورځ د مدني ټولنو د ناڅکو ورځ نـه ده چې لـه ستمګرو سفارتونو د افغانـستان د زیارکـښو ښـځو پـه نامـه ډالـرې شـکوي. دا د هغـو بېوزلـو زیارکـښو میرمنـو ورځ ده چـې د افغانستان د میرمنو لویه برخه جوړوي او اوس د یرغلګرو تیري کونکو د ستم تـر څنـګ د بېلابېلو بېرحمه زورواکو ستم او د نارینـه تـر سـتم لانـدې ژونـد کوي.

ستمګران چې د زیارکښانو دښمنان دي هڅه کوي چې دا د کارګرو او زیارکښو ښځو ورځ په یوه عامه ورځ بدلـه کړي او د همـدې لپـاره میلیونونـه ډالـره خپلـو نوکرانـو تـه ورکـوي چې دا ورځ پـه یـوه شنډه او بې مانا ورځ بدله کړي. ځکه چې ستمګران په دې ښه پوهېږي چې دا ورځ د کـارګرو میرمنـو د پیوسـتون ورځ ده، هغـه پیوسـتون چـې د سـتمګرانو پـه وړاندې د قاطع او کلکې مبارزې سنګر جوړوي او د دې وحشي ستمګرو مانۍ رنګولی شي. پـه افغانـستان کـې دا ورځ پـه داسـې حـال کـې لمانځـل کېږي چې زیارکـښه ښـځې د بهرنیـو سـتمګرو د جنـایتونو قربـاني کېـږي او هـره ورځ وربانـدې د جنـسي تیـري یـوه پیـښه تیریـږي. دا ورځ پـه افغانـستان کـې پـه داسې حال کې لمانځل کېږي چې پـه یو کـال کـې د ښـځو پـه وړانـدې څـه بانـدې ۴۵۰۰ د تـاوتریخوالي پیـښې ثبت شوي دي. دا ورځ پـه داسـې حـال کـې لمانځـل کېږي چې د زیارکښو ښځو پر کورونو بهرنـي سـتمګران بمباري کـوي او بیا د خپلو مدني ټولنو نوکرانـو او مزدورانـو تـه اینجوګانـې جوړوي او پیسـې ورکـوي چـې د ښـځو د حقونـو چیغـې ووهـي. د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن، د مـارچ اتمـه د ستمګرو او مفتخـورو او د یرغلګـرو او ارتجـاعي سـفارتونو د نـاڅکو ورځ نـه ګڼـي، بلکـې دا ورځ د زیارکـښو ښـځو د پیوسـتون ورځ ګڼـي چې باید د خپلې ژغـورنې لپـاره پـر خپـل مـټ او تـوان حـساب وکـړي. زیارکـښه ښځې باید د مارچ اتمه ورځ د هغه کنیزو لـه ولکـې وباسـي چې دا وخت وربانـدې پـه بېرحمۍ سوداګري کوي. د مارچ اتمـه د زیارکښو ښـځو د پیوسـتون ورځ ده او باید د دې ورځ ارزښت پـه خپلـې مبـارزې تلپاتی وساتي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن

-۱۷ کب ۱۳۹۲

## سیلاب های ویرانگر ...

رفتـه و کمـک نـاچیزی کـرده انـد، مقامـات حکـومتی افغانـستان و کمیتـه اضطرار آن هنوز هم در خـواب غفلـت بوده اقدامات مؤثری انجام نـداده انـد. زیـرا اینـان نـه از درد سـیلاب زدگـان چیزی می داننـد و نـه سـیلاب بـه خانـه هـای خـود مقامـات کـه در قـصرهای مجلل بسر می برنـد کـدام آسـیبی وارد کرده است تا از درد مردم آسـیب دیـده بـا خبر شـوند و نـه هـم رسـیدگی بـه وضعیت زحمتکشان وظیفه آنهـا را مـی سـازد، چـون آنهـا در خـدمت سـرمایه داران، تاجران و خان هـای کـلان قـرار دارند، لذا توقع داشتن از آنها بیجا است. بـا وجـودی کـه سـرازیر شـدن سـیل از جملهٔ حوادث طبیعـی اسـت، امـا سـوال اینست که این حادثهٔ طبیعـی چـرا دار و نـدار یـک سـرمایه دار، یـک تفنگـدار بیرحم، یک قاچاقبر، یک تاجر و یـک خان را نمی برد و اولاد و زنش را نمـی کشد؟ جواب به این سوال روشن است: خـان هـا، سـرمایه داران، تـاجران، تفنگـداران بیـرحم و قاچـاقبران همـه و همـه از چـور و چپـاول زحمتکـشان تهیدسـت در قـصرها و خانـه هـای مستحکم و در مناطقی زندگی می کنند کـه کمتـر از حـوادث طبیعـی صـدمه و ضـرر مـی بیننـد، امـا از آنجائیکـه زحمتکشان تهیدست و فقیر بـه خـاطر ناداری در خانه هـای گلـین و اکثـراً در سیل روها زندگی می کنند، همین است که حوادث طبیقی از قبیل سرازیر شدن سیل و زلزله، بیشترین قربانی اش را از زحمتکشان نادار می گیرد. ★



# «ټاکنې» د زیار کښانو په ګټه نه دي

هیواد

پـه داسـی حـال کـی چـی زمـونږ ګـران هیـواد افغانستان خپلواکي نلری او د امریکا لخوا اشغال شویدی، اوس د همدې امریکا او ناټو تـر سـیوری لانـدی د ریاسـت جمهـوری «ټولټاکنې» تر سره کېږی تر څو آینده ولسمشر «انتخـاب» شـي. آیـا دا ټـاکنې د زیارکـښو ولسونو په ګټه دي؟ آیا دا ټاکنې به وکړای شي زیارکـښان لـه اسـتعمار او زبېـښاک څخـه وژغوري؟ د دې پوښتنو ځواب یو قطعی نه دی!

ځکه اول، داسې یو هیـواد چې سیاسي او اقتصادي استقلال ونلري او پـه کې لسګونه زره بهرني ظالمان ستم او جنایت وکړي، هلتـه ټاکنې یوازې مسخره ګي او عـوامفریبي ګڼل کېږي. بهرني ستمګران غواړي داسې یو کس واک ته ورسوي چې د هغوې ګټې په پام کې وساتي. نو ښکاره خبره ده چې هر هغه څوک چې د استعمارګرانو ګټې خونـدي کـوي، د زیارکښانو په مقابل کې ودرېږي، نو دا ټـاکنې په هیڅ ډول د زیارکښانو په ګټه نه دي، نـه یـې ولسمشرۍ او نه یې هم ولایتي. هر هغه څوک چې غوښه په دې نامه چې د غویي غوښه ده، نه خوښـوي خـو ښـوروای یـې ورتـه خونـدوره ښـکاره یـوازې عـوامفریبي کـوي او بس. پـه ښکاره باید وویل شي په هغه هیوادونو کې چې بهرنـۍ سـتمګران بمبـاري کـوي او زیارکښان وژني، ټول ټاکنې مانا نلري.

دویم، راتلونکې ولسمشرۍ تـه داسې کسانو ځانونه کاندید کړي دي چې لاسونه یې پـه یو ډول د زیارکښو ولسونو په وینو سره دي ټول کاندیدان د امریکا او ناټو دوستان دي، د هغه امریکا او ناټو چې هره ورځ زیارکښان وژني. قاتلین، جنایتکاران، تالی ختې او خرڅ شوي بروکراتـان او نیـانځکی پـه هـیڅ ډول د زیارکښانو په ګټه ګام پورته کولای نشي. ټولو کاندیدانو دا لیوالتیا ښودلی چی لـه امریکـا سره به امنیتی تړون د ریاست جمهوری رسیدو نه وروسته لاسلیک کوي او په دې ډول غـواړي چې د افغانـستان مظلـوم ولـس د تـل د پـاره د اسارت په کړۍ کی بند کړی. بیا هم ښکاره خبره ده چې داسې کسان چې د بهرنیو په خدمت کې دي، د زیارکـښانو پـه ګټـه نـه یـوازې څـه نـشي کـولای، بلکـې د هغـوې لـه دښـمنانو سـره د زیارکښانو په خلاف چلند کوي.

دریم، پـه تیرو دولسو کلونو کې بېلابېلو ټاکنو وښوده چې «ټـاکنې» یـوازې د شـتمنو، سرمایه دارانو او فیوډالانو او سوداګرو پـه ګټـه دي او زیارکښان ترې هیڅ ډول ګټه اخیستلي نشي. د بېلابیلـو «ټـاکنو» لـه برکتـه یـوازې لوټمـارو شتمنو او فیوډالانو افسانوی ثروتونه تر لاسه کړل او زیارکښان لا بېوزله او نادار شول. ځکـه پـه داسې یوه ټولنه کې چې ملي استقلال نـه وي او دولت د شتمنو طبقاتو پـه لاس کې وي، هلتـه ټـاکنې یـوازې او یـوازې هغـه کـسان واک تـه رسوي چې د همدې شتمنو او لوټمـارو طبقو او د هغوې د بهرنیو ستمګرو په ګټه کار کوي.

نتیجه څه ده؟ تر هغه چې بهرنۍ ستمګران پـه افغانستان کې وي ټاکنۍ هیڅ ډول مانا لرلی نشي. تر هغـه چې زیارکښان د ستمګرانو پـه وسـیله وژل کېـږي، ټـاکنۍ لـه عـوامفریبۍ پرته بله مانا نلري. تر هغه چې جنایتکاران په قدرت کې وي، ټاکنۍ یوازې پر ولس ملنډه وهلو ته پاتې کېږي. هر هغه وخت چې مونږ سیاسـي اسـتقلال ولـرو، بهرنیـان نـه وي او داسې یو دولت واکمن وي چې د زیارکښانو ګټې خونـدي کـړي، ټـاکنې بـه اهمیـت پیـدا کړي، خو ټاکنې پـه هـیڅ ډول د زیارکـښانو د ژغـورنۍ آخـری لاره کیـدلی نـشي، دا د زیارکـښانو د مبـارزې تـاریخ پـه څرګنـده ښودلی ده. ★

## دولت های چپاولگر ...

داران، فیودالان و تاجران بیرحم قرار دارد، از جملـه دولـت هـای اسـت کـه در خـدمت غـارتگران جهـانی قـرار دارد. ایـن دولـت چپـاولگر، در این واخر ظاهرا حملاتـی را علیه طالبان در وزیرستان شمالی آغاز کرده اسـت کـه در نتیجـهٔ آن بـیش از ۷۰ هـزار زحمتکش این منطقه آواره شده که بیش از 25 هـزار آن بـه کـشور مـا، کـشور دربـدرو زندان بزرگ زحمتکشان پناه آورده که دل هر افغان زحمتکش را سخت می رنجاند. بـر زحمتکـشان انجمن اجتمـاعی زحمتکـشان افغانـستان، زحمتکشان پاکستان را جزوی از کتله بزرگ زحمتکشان جهان می داند که تنها و تنها با همبستگی با سایر زحمتکشان می تواننـد خـود را از زیـر یـوغ ستم دولت ارتجاعی و چپـاولگر نجـات بدهنـد. افغانستان است که با وجود فقر و دربدری و به ماتم نشستن روزانه، از این زحمتکشان با صـمیمیت و احتـرام پـذیرایی نمـوده همبستگی شان را نشان بدهند.

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان-۱ سرطان ۱۳۹۳ ★

## د می لومړی ورځ ...

مړه شول او بې غیرته او لوټمار پانګوال د نورو کارګرانو لـه غچـه ځان پټ کـړ. دا پـه دغه ولایت کې په تیرو شپږو میاشتو کې دویمه پیښه ده چې د کارګرانو ژوند اخلي. شپږ میاشتې وړانـدې د رویـې و دو آب ولسوالۍ د آبخورک په سیمه کې د سکرو د یوه کـان د ښوییدو لـه امله ۲۷ کـارګران مړه او ۳۰ نور ټپیان شول یـادې بیلګـې پـه ښه توګه په ښکیلاک شوي افغانستان کې د کارګرانو تریخ او دردناکه ژوند ښکاره کـوي. د دې ډول جنـایتونو تـر څنـګ، څرنګه چې وویل شول بهرني ستمګران هم هـره ورځ کـارګران او زیارکـښان وژنـې او ځـوروي. دا ستمونه دوام مونـدلی شي کـه چیری کارګران او نور زیارکښان پـه یـووالي او پیوستون د ژغـورنې پـر لاره لاړ نـشي. د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن باور لري چې کـارګران د یـوې شـرافت لرونکـې طبقې پـه توګه یوازې او یوازې هغه وخت لـه بیلابیلو ستمونو او جنایتونو خلاصیدای شي چې لـه نورو زیارکښانو سره یو ځای او پـه پیوسـتون د لوټمـارو، سـتمګرو او چپاولګرانو پـه وړاندې پـه یوه مورچل کې مبارزه وکړي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن – د ۲۱۰۴ د می لومړۍ نیټه ★

## افغانستان بزرگترین ...

شدن خود و خانواده های شان به این مرض کشنده ندارند و از آنجائیکه در ضمیر شان خدمت به زحمتکشان را سراغ کرده نمی تـوانیم، لـذا چنـدان هـم بـه فکـر راه هـای جلوگیری این مرض نیستند. اگـر افغانـستان در صـدر جـدول تولیـد کنندگان مواد مخدر جهان، فساد اداری، مـرگ و میـر مـادران در عـدم دسترسـی بـه خدمات صحی قرار می گیرد و یا بالا ترین مرگ و میر مبتلایان به توبرکلوز را در سطح جهان بـه خود اختصاص داده است، شرم و سر افگندگی آن بـاز هم بـه حکومت مدارانی بـر مـی خـورد کـه تحت عنـوان "مبـارزه علیـه توبرکلوز "یا امثـال آن پـول هـای کلانـی را حیف و میل می کنند ولی توجه چندانی برای از بین بردن این مرض کشنده که قابل علاج و وقایـه نیـز مـی باشـد، معطـوف نمیدارنـد.

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان ★

## کودکان زحمتکشان ...

بـه پـروژه امریکـا و نـاتو و دولـت هـای مرتجع منطقه تبدیل شده است، افغانستان را به اسارتگاه و قبرستان بـزرگ زحمتکـشان تبـدیل کـرده اسـت. در ایـن اسـارتگاه، کودکان بـدترین زنـدگی را مـی گذراننـد. اگـر از یـک طـرف قتـل عـام مـی شـوند و بمبـارد مـی شـوند و در انتحـار میرمنـد، در طرف دیگر هر روز به گدایی و فقر بیشتر و زندگی طاقت فرسا سوق داده می شوند.

وزارت کـار و امـور اجتمـاعی دولـت حمایت کننده سرمایه داران و فئودال هـا و تاجران چپاولگر که کمک طیاره هـای بـی ۵۲ سـتمگران خـارجی را بـا خـود دارد، اعـلام کـرده اسـت کـه از هـر ۹ کـودک کارگر سه تن گدایی می کنند. این وزارت مـی گویـد در حـال حاضـر در حـدود ۲ میلیون کودک در افغانستان کـارگر هـستند. علی افتخاری سخنگوی وزارت کـار و امـور اجتماعی به خبرگزاری بخدی گفته است که سرنوشـت تـاریکی در انتظـار ایـن کودکـان است. سخت است به سـخنگوی ایـن وزارت تفهیم کـرد کـه چـه سرنوشـت تـاریکی جـز کارگری یک کودک بـوده مـی توانـد، چـه سرنوشت تاریکی جز گـدایی یـک کـودک بوده می تواند.

تا جنایتکاران خارجی و داخلی سرنوشـت افغانـستان را تعیـین کننـد، کودکـان و سـایر زحمتکـشان روی خوشـبختی را دیـده نمـی تواننـد. کودکـان زحمتکـشان فقـط و فقـط روزی مـی تواننـد خوشـبخت باشـند کـه افغانـستان کـشور مـستقل، آزاد و تعیـین سرنوشـت آن در دسـت زحمتکـشان باشـند، چنـین افغانـستانی فقـط بـا دسـتان خـود زحمتکشان ساخته شده می تواند. ★